## مکررې پوښتل شوې پوښتنې

زما د ځاي خرچه به څنګه تأدیه شي؟

بوديجوي تمويل به په مستقيم ډول ستاسو د ماشوم د ماشوم پاملرنې اداري ته ورکول کيږي.

دغه تنظيمات ټول د وارويکشير (Warwickshire) د ښارګوټي شورا او آفسټډ (Ofsted) سره راجستر او ثبت دي.

## څنګه زه غوښتنه ورکولاي شم؟

تاسو کولی شئ د دغه پتې www.warwickshire.gov.uk/childcarecosts په ترڅ کې انلاين غوښتنه ورکړئ.
د مرستو یا نورو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د لومړنيو مرستو د تمويل د ټيم د کسانو سره په دغه شمېره اړيکه ونيسئ:
تيليفون: ۰۱۹۲۶۷۴۲۲۱۷ يا ۰۱۹۲۶۷۴۲۲۳۳
برېښناليک: 2help@warwickshire.gov.uk

يا FIS (د کورنۍ معلوماتو خدمت) سره اړيکه
تيليفون: ۰۱۹۲۶۷۴۲۲۷۴
برېښنا ليک: fis@warwickshire.gov.uk

## کله چې غوښتنليک ورکړل شي بيا څه پېښيږي؟

دحکومتی ارزونې تر سيستم لاندې ستاسو د غوښتنليک وړتيا ارزول کيږي. که چېرې تاسو د تأييد وړ ياستئ نو تاسو ته به يو د منظوري ليک درولېږل شي، چې هغه کې د EY Voucher Code (ای واي واوچر/کوپون کوډ) درته توضيح کوي ستاسو برېښنا ليک ته يا هم په پوسته کې درولېږل شي چې د ځای د تمويل تأييد وکړي. تاسوته به همدا راځې يو لست درواستول شي چې هغه کې به په سيمه کې د ماشومانو پاملرنې انتظاماتو په هکله کوم چې تر ۲ کلنو پورې ځايونه تمويلوي وړاندې کړي. تاسو بايد هغه خپل ټاکل شوی د پاملرنې تخصيصاتوته د تأييد ليک او اي واي واوچر کوډ ورکړئ. که چېرې ستاسو مستحق کيدل او وړتيا ثبوت او تأييد نشوه نو له تاسو به د نورو ملاتړو شواهدو ثبوتو غوښتنه وشي.

## ستاسو د معلوماتو حقوق

د دي ليدو لپاره چې مونږه ستاسو شخصي معلومات څنګه استعمالو او تاسو کوم معلوماتي حقوق لرئ مهرباني وکړئ زمونږ د مطالبه کوونکو د محرميت خبرتيا تر عنوان دلته www.warwickshire.gov.uk/privacy دلته يې ولولئ، دا همدا راز د اړيکو توضيحات او که چېرې تاسو کوم شکايت لرئ هم شاملوي. د عمومي پوښتنو لپاره د وارويکشير د ښارګوټي شورا د مطالبه کوونکو خدماتو شمېرې ۰۱۹۲۶۴۱۰۴۱۰ سره اړيکه ونيسئ.

تازه شوی: مې ۲۰۲۱

Warwickshire County Council



وموځ چې تاسو څنګه کولی شئ د خپل ۲ کلن ماشوم لپاره د تمويل شوي د ماشوم پاملرنې ځای ترلاسه کړئ

- په هفته کې د ۱۵ ساعتو لپاره
- ۳۸ هفتې په کال کې

ستاسو د ماشوم د پاملرنې ځای به اونۍ کې معمولا تر ۱۵ ساعتونو پورې وی، ۳۸ اونۍ په کال کې.

د ابه تاسو ته وخت درکړي چې مرسته او مشوره ترلاسه کړئ، ستاسو سره به ستاسو د ماشوم د ودې او د هغه د زده کړې او روزنې د فرصتونو د موندلو په هکله مرسته وکړي او تاسو یې وپلټوئ.

## کله به زما ماشوم د داخلې وړ وي؟

ماشومان معمولا کولي شي د ښوونځي د پیل د دورې نه ځاي پيدا کړي وروسته د دوي د دوهمې کلیزې نه

| تمويل شوي ځايونه ورته پيل کيږي له: | زیږېدلي ماشومان مابين د: |
|---|---|
| د اوړي دوره (له ۱ د اپريل نه) | ۱ د جنورۍ نه تر ۳۱ د مارچ پورې |
| د مني دوره (له ۱ د سپتمبر نه) | ۱ د اپريل نه تر ۳۱ د اګست پورې |
| د پسرلي دوره (له ا د جنورى نه) | ۱ د سپتمبر نه تر ۳۱ د دسمبر پورې |



### که چېرې تاسو يو يا ډېرې لاندنۍ حقوق ګټې يا کريډيټ/پېشخور تر لاسه کوئ تاسو کولی شئ چې خپل ۲کلن ماشوم ته تمويل شوی د ماشوم پاملرنې ځاي تر لاسه کړئ:

- د عايداتو ملاتړ (ان کم سپورټ)
- د عايداتو پر بنا د کار لټونکي استحقاق (ان کم بيسد جاب سيکر الوانس)
- د عايداتو په تړاوو د کارموندنې او ملاتړ استحقاق (ان کم ريليټيد ايمپلويمينټ اينډ سپورټ الوانس)
- د ۱۹۹۹کال دکډوالۍ او پناه غوښتنې قانون د ۶ برخې لاندې ملاتړ
- د تضمين کړل شوي دولتی تقاعد د کريډيټ عنصر
- که چېرې ستاسو کلنی عايد تر ۱۶،۱۹۰ پونډو کم وي، نو د ماشوم د مالي د کريډيټ د کار د مالي د کريډيټ په ترخ کې
- د يونيورسل کريډيټ (نور عمومی کريډيټ استحقاقونو) لاندې که چېرې ستاسو کلنې خالص عايد له ۱۵۴۰۰ پونډو څخه کم وي

**یا**

- که چېرې يو ماشوم د ځايي چارواکو تر څارنې لاندې وي
- که چېرې ماشوم د ځانګړي ساتنې ځاي پريښی وي چا يې کفالت په غاړه اخستی وي يا چا فرزندي نيولي وي يا هم د کوم بل انتظام حکم ورته شوي وي
- ماشوم جاري ځانګړې تعليمي اړتياوې، يا هم کوم تعليمي، روغتيايي او د پاملرنې پلان لري
- ماشوم د معلوليت لرونکو د مرستو د استحقاق لپاره وړ ده

### د۲۰۱۹ د سپتمبر را ايسې څه اضافی پراخه معيارونه معرفي شوي که چېرې مور يا پلار (والدين) د کډوالۍ وضعيت لاندېنې ډولونه څخه يو ولري:

- د زامبرانو پالونکي (هغه کس ده چې د اروپايي تر قانون لاندې په بريتانيا کې د استوګنې حق تر لاسه کوي که چېرې د بريتانيوي ماشوم يا د اړونده بالغ کس د لومړنې پالونکي په توګه وي) البته په هغه حالت که چېرې ستاسو کلنی عايد له ۱۵۴۰۰ پونډو څخه کم وي
- ليف ټو ريمين (اجازه ورکړل شوې د استوګنې) ويزه په هغه صورت کې چې ټولنيزې عمومي سرمايې (NRPF) ته رجوع و نه کړي په کورنۍ يا شخصي ژوندانه پړاو کې (۸ ماده)، که چېرې ستاسو کلنی خالص عايد تر ۱۵۴۰۰ پونډو کم وي
- که چېرې تاسو بريتانيا کې د پناه غوښتنې درخواست ورکړي وي او يوې پرېکړې ته انتظار باسي (چې د ۶ فقرې په نوم پېژندل کيږي) يا ستاسو بريتانيا کې پناه غوښتنه رد شوي ده چې (د ۴ فقرې په نامه پېژندل کيږئ) او تاسو د ۱۹۹۹ کال د کډوالۍ او پناه غوښتنې قانون لاندې مرسته تر لاسه کوئ
- که چېرې د ۱۹۸۹ کال د ماشومانو د قانو ن د ۱۷مې فقرې لاندې ملاتړ تر لاسه کوي، پر دې اساس چې تاسو يو اړين ماشوم لرئ او ټولنيزو عمومي سرمايو (NRPF) ته هيڅ مراجعه نکوئ، کلنۍ خالص عايد مو له ۱۵۴۰۰ پونډو څخه کم دي